# صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، رُؤُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا». «دوه ډوله د جهنم خلک دي چې ما تر اوسه نه دي ليدلي: يو ډول داسې خلک دي چې د غواګانو د لکيو په څېر قمچيني ورسره وي او خلک پرې وهي او هغه ښځې چې جامې لري خو بربنډې وي، سرې ورته مايله کيږي او دوی سړيو ته ميلان پيدا کوي، سرونه يې داسې جوړ کړي وي لکه د اوښ د مايله بوقان په څېر، دوی به جنت ته داخلې نه شي، او نه به يې بوی ومومي، حال دا چې بوی يې په دومره دومره مسافه کې موندل کېدلی شي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوه ډوله دوزخيانو په اړه خبرداری ورکړی چې ليدلي يې ندي او د هغه په وخت کې لا دا ډول خلک نه و راښکاره شوي، بلکې له هغه نه وروسته به راځي. لومړ ډول: هغه خلک دي چې د غواګانو د لکيو په څېر اوږدې قمچيني لري او خلک پرې وهي، نو دا پوليس او د ظالمانو ملاتړي دي چې خلک په ناحقه وهي. دويم ډول: هغه ښځې دي چې د عفت او حيا جامې يې لرې کړې وي چې معمولا ښځې يې په فطري لحاظ لري. او داسې يې توصيف کړې چې: په حقيقت کې جامې لري، خو په معنوي لحاظ لوڅې وي؛ ځکه نر جامې اغوندي چې پوستکي ترې ښکاري، د بدن يوه برخه پوښي او بله د ښايست ښودلو په موخه لوڅوي. دوی د سړيو زړونه د دوی په جامو او په ځانګړې توګه قدم اخيستلو سره ځانته مايله کوي، خپلې اوږې کږوي، او نور انحراف او هغه بې لاريتوب ته رامايله کوي چې دوی په کې لويدلي دي. د دوی له ځانګړتياوو څخه ځينې دا دي چې: سرونه يې د اوښ د مايل بوقان په څېر وي، دوی د خپلو سرونو حجم غټوي او سربند او نور شيان ترې تاووي. د اوښ له بوقان سره يې مشابهت د سر د پاسه د دوی د ويښتانو او کمڅيو د پورته کولو له امله دی او ويښتان داسې راماتوي چې کمڅ د سر يوې څنډې ته کږوي، لکه څرنګه چې د اوښ بوقان يو طرف ته مايله وي. نو په کومو مېرمنو کې چې دا صفتونه وي، په اړه يې دا سخت ګواښ راغلی دی چې جنت ته به نه ننوځي، نه به يې بوی ومومي او نه به ورته نږدې شي، په داسې حال کې چې د جنت بوی له ډېرې لرې واټن څخه حس کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8903

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee